Download from:aghalibrary.com

افغانستان د سولی سنگر دی

www.ketabtoon.net
کتابتون.نت

جبهه مبارزین مجاهد افغانستان

افغانستان د سولی

سنگردی

PROPERTY OF ACKU
747

جبهه مبارزین مجاهد افغانستان

بسم اللہ الرحمن الرحیم

أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللّٰهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ
مُّؤْمِنِينَ • قَاتِلُوهُمْ
يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ
وَيَنْصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ
مُّؤْمِنِينَ ۝ وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ط

ترجمه :

آیا ورڅخه ویریږي ـ پس خدای (ج) لایق
د دي دي چې ورڅخه وویریږي که مسلمانان
یاست ـ جنګ وکړي ور سره ترڅو
خدای (ج) ستا سو په لاس هغوي
عذاب کړي او رسوا کړي هغوي ـ اوتاسو ته
پر هغوي فتح درکړي ـ اود مسلمانانو
سینوته شفا ورکړي اود دوي د زړه څخه
غم لري کړي •

التوبه ۱۳ ـ ۱٤

افغان قهرمان اولس د تاریخ په اوږدو کښې
دخپل استقلال اوعزت د ساتلو پخاطر په
زرګونو شهیدان ورکړیدي او په سرو وینو یې هغه
لاره ترسیم کړیده چه نسل په نسل به پرې
آزاد اوخپلواك روان وي . دلته د هرغلیم د ظلم کاسه
نسکوره شوي اوهر یرغلګر په شا تلوته مجبور شوي
دي . ددي هیواد څپك څپك د هر لوي د ښمن
د لوټ ماري اوتا لان ـ وژلو او ربړولو سوزولو
او ورانولو شا هد دي . ددي ملك مد نیت
خا ورو سره برا بر شوي او ښا رونه یې تباه .

شوي دي ــ کلی یی وران شوي او با نډوتــه یی
او رونــه اچول شویدي په دي هیله چی دا ملت به
غا ړه کښیږدي ــ خو د دي ملت د خپلواکـــــی
غوښتنی آوا زهروار د مخکښی څل څخه لا څـــو
چنده اوچت شویدي ــ د استعمار گرو لښکري یی
فناه کړي او دظلم خا وندان یی په گونډو کړیدي
را څی چی وگورو انگریزي حکومت د دي ملـــت
دنا بودولو دپاره دلارد لیتن (په هند کښـــــی
نائب السلطنت) پــه خوله څه ویلی و: د انگریزي
لښکرو پــه واسطــه د افغانستان نظامی نیول بــه
ترهغه وخته دوام وکړي چی د افغانستا ن خلـك
د انگلیستان د اطا عت سره عادت ونیسی» ولــی
همدا لارد لیتن وو چی د اسلام د لاري خپلواکـی
غوښتونکو مجا هدینو د خپلو دوا مداره اوسختـــو
حملو پــه واسطــه ۲۵ کاله وروسته پدي مجبـــور
کړ چی ووا یی: د سرحد منظره پــه نړي کښــی
ساري نه لري څکــه چی یولــوي متمدن قدرت

۲۵ کاله وروسته په "نیمه وحشی" کا وندو یا نو کښی په زړه پوري نفوذ نلري اود برتانیه قلمرو د ډیري لوي فوځي قشلی څخه د یوي ورځی په فاصله نا محفوظه سیمه ده ــ اود سرحد په یو میلی کښی د یو انګریز ژوند په خطر کښی دی".

اوهمدا سی بیکنس فلد د لارد لیتن څخه په انتقاد سره وویل چی: "د افغانستا ن نیول بايد ابدي اوجا ویدا نی اوسی تر څو د نیا عادت ونیسی چی زمونږ قدرت په افغا نستان کښی جا ویدا نی دی" دي مغرور انګریزي هیڅ وقت فکر نشو کولای چی د دی د لوي امپرا طوري منظمی لښکري دي د بیوزلو اوغیر منظمو مجا هدینو لخوا دا سی د شرمه ډ که ماتی وخوري ــ او د امپرا طوري د لښکروقوماندانان دي دحملی څخه د وه کاله وروسته دا سی معا هدي ته تن کښیږدي چی په هغی کښی،

د انګریزي دولت د شرف سره لوبی وشی ۰

د تاریخ پدي پړا وکښی د تزار وارثا نو وغو ښتل یو ځل بیا د ا ملت وآزما یی ـ او معلومیږي چی دځپل یرغل خوند ورځ په ورځ لا پس ښه محسوسه وي ۰ پریږ دي چی رو سا نو ته هم ثا بته شی چی کم ملت شهید ورکوي هغه نه اسیر کیږي ـ همدا شهید پرور ملت دي چی د سره ـ سیلاب په مقا بل کښی یی د غو ښونه فولاد جوړ کړي او ۹ کلنه د یره بی رحمه جګړه یی پر مخ وړیده پدي جګړه کښی د دي ملت د هغا نانو او د ځمکی خا وندانو ـ کار ګرو اود سرما یه خا وندا نو ـ دکاندا را نو او کسبه کا ر نو ـ محصیلنو او متعلمینو استادانو او معلیمنو ـ روحا نیو نو اود دولت ما مورینو ـ په اردو کښی وطنپا لو صاحبمنصبا نو او عسکرو په ګډه سره د قران عظیم الشان د حا کمیت اود افغا نستان د خلا صون تر شعار لاندي برخه را خیسته او د مقا ومت جګړه یی ژوندي وسا تله

پدي گړ پا خون کښې د جګړي د دوام را زېږوتدي ٠ که نه نو د جګړي په شروع کښې هيڅ خارجي هيواد د مجا هدينو ملا تړ ونکړلو ـ او ټولــــه نړي حتی اسلامی هيوادونه هم دي ته څیر وو چي د تره کي د حکومت مخا لفين به وکولاي شی مقاومت ته دوام ورکړي اوکــه نه ؟ کله چي ورته لږ لږ اميد پيدا کيدلو په ورو ورو يو بل پسی ميدان ته راووتــل چی دجګړي په ګرميدلواود مجا هدينـــــــو د آوازپـــه قوي کيد لو سره داملا تړ مخ پــــــه زيا تيدو شـــو ، چی لا اوس‌هم په هيڅ صورت سره کافی ندي ٠

زمونږ خلك با يد پــه ياد را وړي چی د جګړي پــه شروع‌کښی د چا با ورنه را تللـــــو چی دا بی‌وزلــه خلك دي د روس ابر قدرت سره مقا بله وکولاي شی ٠ او اوس‌چی یی د خپل‌وسله وال جهاد پــه زورپــه نړ يوا لو خپل حقا نيت اود جهاد دوام قبول کړيدي ،نوځاي ځاي آوا ز

پورته کيږي چې د روسانو د وتلو وروسته په دافغانستان مجاهدين وکولای شي يو واحد دولت جوړ کړي ؟ اوکه جوړ يې کړي نو دا دولت به د کوم دولت په شان وي ؟ دوي هريو دافغانستان آینده دولتی سیستم د خپلو دولتی سیستمونو په حساب سنجوي . اونه پوهيږي چې په افغانستان کښې د دوي د ملکونو په شان انقلاب ندي شوي ـ د دوي د جګړو دقوا نينو په حساب جګړه نده شوي ـ د دوي د تنظيمونو په شان تنظيمونه ندي جوړ شوي ـ بلکه هر څه اسلامي اوافغاني رنګ لري او دولت به يې هم د دوي د دولتونو په شان نه وي . خارجي قدرتونه بايد پوه شي کوم ملت چې ابر قدرت را پرزولی شي هغه خپل آینده دولت هم جوړ ولای شي . خو دوي دي لږ څه نور هم ناظر اوسيږي اوډير تلوار د نه کوي څکه چې دا وار بيا په تحليل کښې غلطيږي . لکه څنګه چې يې د مقاومت د جګړي دوام نشو قبلولای او زمونږ ملت پر

مخ یوړه ـ همدا سی که دوي د مجا هدینـــــر پـــهلاس د دولت جوړ ول نشی منلاي نو زموږ ملت به ورته ثا بته کړي چی دوي دخپل سر نو شـــــت د تعیین او دولت د جوړولو پوره استعداد اوتوان لري چی پدي برخه کښی هم خارجی استاد تــــــه ضرورت نلري ۰

پدا سی حال کښی چی ملت لګیا دي‌په خپلـی قهرما نی سره د نړ ي په تاریخ کښی نوي باب پرا نیزي اود اوز دي جګړ ي د پرمخ وړ لو دپاره سنګرونــه پیا وړ ي کوي ــ روسا نود خپ ل ګوډ اګـی دولت د مشر نجیب ګاو پــه خوله د ملی پخلاتوب رمبا ړه وکړه ۰ چی وطن پلوورنکی ورته لبیك وایی اود ساده ګا نو سره دا سو ال پیدا کیږ يچــــــی دافغا نستان مسئله به د سیا سی لاري حل شــی اوکــه نه ؟

دافغا نستـان قهرمان ملت د خپل نا موس خه‌د د فاع‌پخا طر توپك پلاس‌را پورته شویدي

داملت د سولی طرفدار اود جگړي مخالف دي د افغانستان خلکو د حق اوعدالت په طرفداري په یوه داسې جگړه لاس پوري کړي چې د کامیابی نتیجه به يې دافغانستان خپلواکی اوبه نړي کښې د آزادي اود سولی د سنگر تینگیدل وي ـ د داسې یو طاقت په مقابله کښې چې په افغانستان باندي د هغه بري د اورلمن لا پسې پراخه وي اونه یوا ځې د نسیمی امن به د مینځه یوسی بلکه تو له نړي به د دي جگړي په لمبوکښې وخو ټیزي • په اوسنی حالت کښې هغه سا ده گان چې د افغان ملت په درد اورنځ باندي زړه سوزوي اوداسې فکرېږی په سرکښې راگرځي چې نوره تباهی بس دي ـ نور د افغانستان د بې گناه خلکو وژل بس دي ـ نور باید کورونه وران نشی ـ نور باید د خلکو مالونه لوټ نشی • داسې خلک باید پوه شي چې د همدومره بس کید لوپخاطر باید جگړه وشی • دوي باید پوه شي چې دا جگړه د شوروي د

امپریا لیستی منا سبا تو محصول دي اود دي منا سبا تود نړ یوال حا کمیت د تا٭مین پخا طر شروع شویده ٠ او زمونږ اصلی بد بختی به چی د نا موس ـ عزت ـ شرف ـ خپلوا کـــــــی او آزادي لوتو نـــه ده هغه وخت شروع کیـــــږي چی د هدف د لاسته را وړلو پرته زمونږ لخــوا جگړه ودریـــــــــــږي ٠ هغه څـــوك

هغه څوك چـــه په بنـــه نیت سره د جگړي ودریدل غوا ړي دوي اصلا٭ د قا تل اولو تمار خصلت ندي پیژند لی . د وي پدي نه پوهیږي چی جگړه ولی شروع شویده ؟ اود جگړي د شروع ــ کید لوعوامل څه دي ؟ آیا تر څو پوري چـــــی د جگړي د شروع کید لو عوامل موجود وي جگـــــړه بس کید لی شی ؟ آیا تر څو پوري چی د جگړي اهدا ف لاسته نه وي را غلی جگړه بس کید لی شی؟ د جگړي د عواملو پـــه موجود یت اود جگړي د هـــدف د لاس ته نه را تللو پـــه صو رت کښی جگړه نشـــی

بس کیدلاي اوسیا س حل هم بې مفهومـــه کلمـه ده ۰

تیري اوتجاوز د امپریا لیزم خصلت دي چې شوروي خپل دا خصلت زمونږ پـه هیواد کښـې بربنډ ونښود ۰ پـه شوروي کښې د فاشیستـي نظام د حاکمیت موجودیت اوپـه افغانستـان کښې د هغه لاس پوڅې حکومت د جګړي د ــ اسا س عواملو پـه توګه عمل کوي ــ ترڅـــو پوري چې د دي فاشیستي طا قت عسکراومزدور حکومت پـه افغانستان کښې وي د جګړي د ختمیدلو سوال نشي مطرح کیدلی ۰ بله داچـې پـه جګړه کښې دا خل دوا ړه قو تونه‌جګـړي کولو څخـه معین اهداف لري ترڅو پوري چې د دي دوه متخاصمو طا قتونو څخه یو خپل ــ هدف ته نه وي رسیدلی د جګړي ودریـــدل ممکن ندي ۰ اودا هم ښکاره ده چې د دي دوا ړو قوتونو اهداف سره مخا لف اودا ســـ

نه پخلا کید ونکی دي چی د یو په بـري کیښی د بل ما تی پرته ده •

د ملی پخلا توب طرحـه د رو سا نو پـه خدمت کښی ده او روسان غوا ړي ددي څخه پـه استفادي سره نه یوا ځی مجا هدین پـه نظا می سا حه کښی غا فله کړي بلکه غوا ړي په سیا سی ساحه کښی د غلام نجیب د حکومـت اجتماعی پا یـه مضبو طـه کړي اوبر انغا نانـو ورو سته د د ومره شهیدا نو ورکولو او تکلیفونـــو گا للو د روس‌اود هغه د مز دورا نو غلامی قبولـه اوحا کمیت ومنی •

ځینی بی خبـره خلك شا ید فکر وکړي چی رو سا نود ملی پخلا توب طرحی سره د مارکسیسټ نه عد ول وکړ ـ خوبا ید پـه یاد ولرو چـــی دا سیا ست د مار کسیسټ ـ لینینزم د مشخـــص تطبیق نتیجـه ده او رو سا نو په دي طرحـــی سره وښو دله چی دوي غوا ړي اوس بـــــــ

افغانستان کښی مارکسیسزم خلا تا نــــه تطبیق کړي خود نیکه مرغه چی د دي خلا قیت موقع یی د لاســه وتلی ده ۰

د مارکسیسزم د اصولو پــه اساس کیــدای شی پدا سی هیواد کښی چی هلته اقتصاد نــا موزون رشد کړي وي د سو سیا لستی انقلاب په ذریعه د پرولتاریا د دیکتا تــوري دولــــت تشکیل شی او د دا سی دولت پــه مرسته د هیواد د ننه هغه سیمی چی د تاریخی مرحلی پــــه لحاظ وروستــه پاتی وي سو سیا لیزم ته کش شی ۰ دا هغه طرحــه وه چی د اکتو بر د انقلاب پهواسطه پــه رو سیــه کښی تطبیق شوه او یو سو سیا لستی مقتدر دولت یی مینځ ته را وړ ۰

همدا رنګــه په ورو سته پاتی هیـوا دو نو کښی د کمو نیزم د اقتدار د پاره یوه بله مارکسیستــی – لینینستــی طرحــه مینځ ته را غله چی پــــه شروع کښی حتی د رو سیـه د کمو نست حزب لـه

خوا هم رد شوه ــ ولی وروستـــــــــه
ستا لین هغه یو لوي ابتکار وگڼلو ۰ هغـــه
دما ئو تسې تونګ پــه رهبري د چین دکمونست
حزب طرحــه وه ــ چی د کمونست حزبپــــه
رهبري‌یی د چین پــه وروسته پاتی هیواد کښــی
یو قوي سو سیا لیستی دولت جوړ کړ ۰ د چیــن
پــه جامعه کښی د انقلاب کولو د پاره اصلی مرکز
د کمونست حزب او د هغی پــه رهبري اردو وګڼل
شوه او دي حزب ټولو وطنپالو احزا بو او ـــــ
شخصیتو نو ته چی د امپریالیزم اوفیودالیـــزم
مخا لف وو د وحدت لاس وغزو لو اوهغــــــه
یی پــه متحده ملی جبهه کښی سره را ټول کړل
او د انقلاب د کا میا بید لو وروسته یی پـــــه
ائتلاف سره د چین ولسی جمهوریت جوړ کــړ ۰
چی وروستــه دلږ ي مودي د ااولسی جمهوریـــت
په یو دا سی سو سیا لستی قدرت بدل شــــو
چی نه یوا زي سا ده متحدین یی اعدام او .
زندا نی کړل بلکه د کمو نست حزب ابتدایی ــ

طرا حان یی هم د نیودا لینزم اوبورژوا زي د
نما ینده گا نو پــه تور تورن اواعدام کړل •
کـه د مارکسیستی انقلا بونو تاریخ تـــــه
وګورو نوهله را ته څرګند یږي چی د روسانـو
د ملی پخلا توب سیا ست د مارکسیســـــــزم
لینینزم پــه خدمت کښی دي • ورو ستنی حوادث
به دا څرګنده کړي چی روسان بــه د دیموکراتیک
ګوند لپاره په عسکر اوپولیس با ندي تکیــــــه
وکړي اوپه ملی پخلا توب کښی نور تول پو ستونه
به مخا لفینوته پیشنهاد کړي • او دا دفریدریک
انګلس پــه هغه قول عمل کول دي چی وایی :–
دولت یعنی" مسلح قدرت او زندان " د تولو
مارکسیستا نو پــه اتفاق سره دا دوه قدرتـــه
د سیا سی قدرت نخښــه ده ــ داچی د هـــر
چا پلاس کښی وي هغه د جا معی حاکم دي •
د دي پــه وسیله کیدلاي شی په لازم وخت کښــی
مخالفین پــه اسا نی سره د میدان څخــــــه

وویستل شی

که تاریخ ته ځیر شو تول انقلا بونـــــه
پـه خپل عمل سره همدي ته متوجی وی چـــی
څنگـه د مخا لفینو نظا می طا قت ختم ـ د
مخا لفینو زندان له مینځـــه ولاړ شی ۰ او دهغی
پرځای خپل نظا می طا قت څنگـه وسا تــــی
او د زندان پـــه غیږ کښی یی څوك وسا تل شــی ۰
کله چی رو سا نیه افغا نستان کښی کودتاه
وکړه او دا د وه قدرته (عسکر اوزندان) پـــلاس
ورغلل د جا معی پـــه تحلیل کښی غلط شـــول
هغوي وغو ښتل چی مارکسیستی اصول د لوي ابتکار
سره عملی کړي نو ځان یی د جا معی باد اروگوا و
او برژنیف خیال وکړ له چی مار کسیـــــزم یی
پـــه خلاق " و ول سره عملی اولینینزم یی د نـــوي
تیوري" سره اشنا کړیدي ۰ که نه نو دلینین د نصیحت
پـــه اسا س لازم وو چی پـــه افغا نستان غونـــدي
هیواد کښی سو سیا لیستان پدي پوه شوي وي

چې د یموکراتیزم څه ته وایی ◦ اوهمداسی
د دوي په ذریعه باید دیموکراتان د سو
سیالستانو حد ته پورته شوي وي ـ ترڅو
په دي هیواد کښی د دوي په شرکت سره سو
سیال د یموکراسی مینځ ته راتلای وي ـ داسی
سوسیال دیموکراسی چی هغوي جامعه
د کمونیزم په طرف رهبري کړي اووروسته
د څوکالو خالق گوند په کمونستی څیره
میدان ته را وتلی ري ◦ که چیرته روسانو
د لمړي سرڅخه چی زمونږ د ملت آگاهی
د کمونیزم او د هغی د سیاستونو څخه کمه
وه د مارکس ـ انگلس ـ لینین د مزورانه
سیاستونو اولاربنوونو څخه گټه اخیستی وي نو
زمونږ د انقلاب پرا بلمونه به یی لا زیات
کړي وي اوسه انقلاب کښی به مجاهدین
د زیاتو مشکلاتوسره مخامخ شوي وای ◦
خواوس زمونږ ملت د دوي په اصلی

ما هیت پوه شوي دي او مخکښې د خپلو رهبرانو د نظر وړ کولو څخه تر لاس لاندې شي . د روسانو په سیاست اوچا لوڼو باندې دا سې واقعیتونه تبصره وکړي چې د روسانو تواصلي هدف پرینښودل وي . اومجا هد احزاب هم د تجاربو په لاس ته را وړلو سره دا سې حد ته رسیدلي دي چې په سرعت سره د دښمن په نیرنګ پوهیدلاي شي او په مقابله کښې دا سې مدبرانه سیاست چې د یوځا هد ملت څخه نماینده ګي کوي تد وینسوي .

د دي دپاره چې زموږ ملت د کمونیستانو د رازونو څخه تر سره آشنا شي موږ دلته د کمبودیا سور خمر د نمونې په توګه یا دوو کله چې د سور خمر ډلې په کمبودیا کښې قدرت لاس ته را وړ نو د کمبودیا څخه یې د انسانانو حلالو قصابخانې جوړه کړه . په حزبکښې شامل روسې طرفدارانو

چې د خپلو حریفا نو طا قت ولید لـــــو
نو د قدرت ته رسید لو څخـه مایو ســـه
شول اوخپـل باد ار ته یې پناه یوړه چې د
هغوي پـه اشا ره د ویتنام د مزدورو لښکرو ـه
وا سطـه دا تښتید لی مزدوران حما یت شــول
اوپـه کمبو دیا یې یرغل وکړ • چې تــــول
کمبو دیا یې ملت یې مقا بلې ته ودریده ـ خــو
کله چې سروخمرا نو د تا وښت نورو بر خو ته د
متحدي جبهې پیشنها . وکړ د هغوي لخوا رد
شوـ ځکـه چې د خمرا نو ظلم اوستم لادکمبودیا
د خلکو نه وو هیر شوي • خو د سرو خمرا نـو
ډ له پـه موقع سره یو میا سی ما نور لاړ لـــه
دا سې چې د خپـل تیر شوي دوران څخه یې
انتقاد وکړ اوبل پت د ګوند مشریې دعهدي
څخه لیري کړ ـ اوخپله برنا مه یې هم دکمونیزم
څخه را تیتـه کړه •چې پدي وسیله دمقا وښت
نوري ډ لې قا نع شو لې اومتحده جبهه بیــا

تشکیل شوه ۰ که چیرته د مقاومت نوري ډ لی
د جګړي په اوږ د وکښی خپل فوځ جوړ نکړي
نو په وا قعی معنی غولیدلی دي ـ څکه
سوخسرا نو کسه خپ له برنامه تغیر کړله اوسیاستونه
یی د نوي تعهدا تو سره منا سب وتها کل خو
خپل تشکیلات یی لا پسی مضبوط اوبیا وړ ي کړل
اود خپلونظا می قوتونو واك اواختیار یی متعهدینو
ته پلاسوورنکړ ۰ پدي تر تیب سره کله چی جګړه
پاي ته ورسیږ ي او ویتنا میان د کمبودیا څخه
ووځی نوسره خمرا ن د خپل فوځ پـه زور سره
کولاي شی بیا د دولت واګی پـه خپل لاس کښی
را وړ ي اوټول کا غذي قرار داد ونه پـه
اور وسیـزي ۰

په افغا نستان کښی هم روسان حا ضریږ ي
چی د د موکراتیك ګوند برنا مه په ډ یر منا فقت
سره یوه اسلامی برنا مه اعلان کړ ي او لکه څنګه
چی اوسنا نجیب اونور تظ هر پـه مسلما نـس

کوي حتی رسما• اسلامي حکومت اعلان کړي خو
پدي شرط چې د گوند تشکیلات وسا تل شو
اونظا می طا قت د دوي پلاس کښی وي • څکه
د وي پوهیږ ي چې د دي د وه طا قتو نو پـــــه
زور سره کو لاي شی وروسته د څه مودي خپـــل
اصلی مسیر ته را وگرځی •
مونږ با ید د خپل انقلاب پـــه مسیر کښـــی
د گوړا گی دولت د ما تو لو پخا طر د وطـــن
پلور ونکـــو د تکیه اصلی مرکز د پرغلگرو لښکـ
د هیواد څخـــه وشړ و اومزد ورگوند اونیـــم
بنده اردویی مات کړو ـ ترڅودا د شیطـــان
خا له د همیش د پاره ورا نه شی • که چیرتـــــ
زمونږ ملت روسی مزدورگوند اود هغی مسلح قدرت
مات نکړ ي اوجهاد ود روي پـــه حقیقت کښـــی
یی د خپلی تسلیمی سند امضا• کړیدي •
پدي با ید با ورولرو چې دا جگړه بــــــه
اخر ود ریږ ي خوحوصله پکار ده ـ را څـــی

چې يو ځل د خپلو نيکونو تاريخ ته ځير شو
او ډګرو چې په نږدې دوران کښې يې د انګريزانو
سره څوکاله جګړه وکړه او د جګړې ورومبۍ خبره
څه وه • انګريزانو په ۱۸۳۹ کال کښې
د شاه شجاع په کارمل کولو د ٤٥ زره منظمو
عسکرو او توپخانې سره په افغانستان حمله
وکړه چې د افغانانو او انګريزي ضد وسله واله
مبارزه شروع شوه اوپا لاخره د لوېږو سختو او
خونړيو جګړې د ېږو کاميابيو او پاتـو
ورومسته په ۱۹۱۹ کال کښې يعنې د شروع
څخه ۸۰ کاله وروسته امان الله خان د سلطنت
په لمړي ورځ داسې اعلان وکړه: "اي د افغا-
نستان معظم ملته! ما په کابل کښې
د خپل پلار د سلطنت په وخت کښې
د سلطنت وکالت درلود او اوس مې د همدې
کېله د دې امانت درونه بار وکالنا. مستعما
با للـه په غاړه وا خيست • هغه وخت چې

شاهی تاج را ته خما قهرمان ملت پسـر
کینبود ــ ما لوړه وکړه چی بایډ دافغا
نستان دولت د نړي د نورو مستقلو قوتونو
په ځیر د ملك په خارج اودا خل کښی آزاداو
مستقل اوسی ــ د افغانستان ملت دهیواد
په داخل کښی پوره آزادي لري او دهر قسم
ظلم اوتیري څخه محفوظ اوخلك فقط د قانون
تابع دي اوس ۰ اجباري اوبیگاري کا رونه
په ټولو بر خوکښی ممنوع اولغوه دي ۰ زمونږ
حکومت به په افغانستان کښی اصلاحات
وکړي ترڅو زمونږ ملت اوهیواد وکولاي شی
د نړي د متمد نو هیواد ونو په قطار کښی
منا سبمقام حاصل کړي ۰ زه به د هیواد دکارو
نو په مخ وړ لو کښی مشوره کول خپله رهنما
وگرزم ۰ اي گران ملته اواي با تمیزه قومه
د خپل دین ــ دولت او ملت په سا تلو
کښی وینس او د خپل وطن په سا تلو کښی

هو ښیار اوسی ۰ زه د خدای په تا ســـو او نورو مسلما نا نوته او د انسان تول بنی نوع ته خیر او سعا دت غوا ړم ۰۰۰۰

د دي اعلام څخه وروسته یې د ۱۹۱۹ کال د مارچ پــه دوهمه نیټه په هند کښی انګلیسی نائب‌السلطنه لارد چلمسفورد ته خط ولیـــــږه او ورته یې ولیکل چی باید د ۱۹۰۵ کال پــه معا هده کښی تجدیـــد نظروشی اود افغانستان دولت د انګلستان دولت سره د طرفینو د مساوي حقوقو پــه بنیاد یوي نوي‌معا هدي ته تیار د ي۰ اود دي وروسته د افغا نستان دولت د انګریزي دولت جوابته منتظرپاتی نشو اوعملا٠ یې یـــو آزاد اومستقل سیا ست پرمخ یو وړ ۰ د دې‌مسئلی انګریزان یوي بلی جګړ ي ته تیار کړل چی د افغا نستان دولت د است قلال د اعلان ســـره سم ورته تیاري نیولی وُ ۰ جګړه شروع شـــوه اوپــه نتیجــه کښی یې افغا نا نو یوځل بیـــا

د توري په څوکه‌دا ۱۹۲۱ کال د نوامبر
په دوه ویشتم تاریخ د انګریزسره په یو مز
قرارداد لاسلیك کړ — چې د هغی په
یوه ماده کښی داسی ولیکل شول :" د برتانیا
اوافغانستان علیتین دولتونه یو دبل د
خارجی اوداخلی استقلال حقوق تصدیق او
هغی ته احترام کوي "
په دي معاهدي سره که څه هم د افغانستان
استقلال په رسمیت وپیژندل شو ولی څرنګه چی
د پادشاهانو اووزیرانو لاسیکښی و په
هغه شان چی لازمه وه قاطعیت اوتر اخره
پخپلو شرطونو ټینګار پکښی نه و — اوکه
پدي قرارداد ونوکښی لکه د راولپنډي د ۱۹۱۹
کال د اګست د اتمی نیټی په قرارداد کښی
چې علی احمد وزیر داخله بسمبکارمه‌ول د
وزارت خارجه د تدوین شوو شروطو څخه
ونبویده اودغا لبهیواد د سرحدونو

تا کسه یی د مغلوبهیواد پلاسرورکـــــــړه ۰ د وخت پادشاه ورته د ملی خیانت په نتیجه کښی فقط دوه کاله زندان هغه هم د علی احمد په خپل کور کښی تجویز کړو او وروسته ... کا لو یی عفوه کړ اوبیا یی خپله خوښه ورواده کـــــــــړه ۰

PROPERTY ACKU 747

په هرحال را شئ چی وګورو د جګړی په کم پړا وکښی زمونږ قهرمان اولس سولـــــی ته حاضرشویدی او د سولی آوا زته یی لبیک ویلی دی ۰ زمونږ اولس د تاریخ پـــــه اوږدو کښی د ډیرو بدبختیو اوتورو ورځو ســـــره مخا مخ شویدی ولی غلیم ته یی هیڅ وخـــــت د کمزوري پـــه دوران کښی د سولی آوا زنـــه دي پورته کړي ـ ځکه چی دوي با ورلـــــري چی ژوند پـــه عزت اوشرافت کښی دي ـ او دا د مقا ومت څخه پرته لاس‌ته نه راځـــــــی ۰

دوي هیڅکلـــه د بی همتو په او بوژوند ندي

قبول کړي اوهیڅ وخت توهین اوتحقیـــــــر
نه منی ـ نوځکـه یې د تل د پاره د خپـــل
نا موس څخـــه د دفاع پخا طر توره د تیکـــــــی
را وستلې ده ۰ که د تاریخ نژدي دوران تـــه
وګورو د افغان ـ انګلیس د اولی جګړي څخـــه
نیولې ترآخري پورې د ا انګریزان وه چـــــی
د سولې آوا ز به یې پورته کولو ـ او همـــدا
انګریزان و چی د سولی قرار داد به یې ما تولـــو۰
دا پدي معنی چی حتی قرار داد به یې د فرـ
صت د لاس‌ته را وړلو د پاره امضا ۰ کولو ـ نه
د سولې د پاره ۰ اوپه همغه وخت کښی که فاتح
افغا نا نو قرار داد هم امضا ۰ کولو د خپلو ملی
ګټو د پاره به یې خپل ځان همیشه جګړي تـــه
چمتو سا تلو ۰ زمونږ ملت لکه څنګه چی د جګړي
په میدان کښی پــه میړا نه جنګیدلی د سولی
پــه وخت کښی یې هم د ماتی خوړ لی د ښمـــن
سره خپل اخلاقی شها مت سا تلی دي ۰ ولـــی

څرنګه چې دي ملت يومد بر ـ هو ښيار اوملي
ګیوته وفادار تنظيم نه درلود همیشــــــه
د کاميا بي اوفتح ورو سته ناکام شويدي ۰ دا
ملت د چا توري د بار لا ندي ندي راغلی خو
د معا هدي د ميز پـــه سر د مغلوب دولت د
تعهدا تولا ندي راغلی دي ـ دا څکه چــی
زمونږ ملت د زړ کا لو را په دي خوا فکر کو لـــو
چی کلــه يی يو پاد شاه ته بيعت وکړ هغـــه
اولی الامر دي اوخارجی اودا خلی امورو کښـــی
د ده وکيل دي ـ او تر څو پوري چی په ښکاره
تو ګــه د دين او وطن د دښمن څخــه ملا تــړ
ونکړي د امر اجرایی په هر سر يوا جبده ۰ په
پاد شا ها نو زمونږ د ملت دا بی قيد او شرطــه
نو
اعتماد د دي سبب ګر زيدلی وُ چی هغوي دخارجيا
سره په آزاد ډ ول هر قسم قرار داد تړ لـــو۰
دا قهرمان ملت با يد دخپلی تاريخی تجربی
نياد دي نتيجــی ته ورسيږي چی پـــه هيڅ يو

امیر بی قید او شرطـه با وروںکـړي ازا
آرزو هغه وخت تحقق موی چی د ملت اکثریت
چی پـه حقیقت کښی سره هیڅ اختلاف نلري او
ټولی ګی یی سره پیوند لري په یو اسلامی وحدت
سره را ټول شی ۰

مونږ با ور لرو چی زمونږ قهرمان ملت خپ‍ی
ګی پیژنی اوهمیشـه کـه د پاد شا ها نـو
پښـه پکښی مینځ ته نده راغلی دي ملـت
خپلی ګمی ندي هیري کړي اود ۷ یـرو
مغلقـو دربارې جملو څخـه پرته پـه ۷ یري
سادهګی اوصدا قت سره یی د خپلی مرچی
پـه څوکـه خپل ملت تمثیل کړیدي ۰ دوي چی
پاد شاهی اووزارت نه غوا ړي د وطن د مـا ئلو
په لاره کښی په ۷ یره میړا نه اوقربا نی سره
خپلی ملی وظیفی سر ته رسوي ۰

ددي دپاره چی زمونږ ملت په دي مسئلـه
په شی چی زمونږ نیکو نو کله چی د پا شاهانو
د پا د شا هی څخه پرته د پرد و سره معا هده

امضا کولـه هغه د خو مره سیا سی شعوره که اود یو فا تح ملت د خلکو د فکري قدرت بنکار- ندوي وه • را ځی چی شا ته وګورو ۱٤٦ کاله مخکښی یعنی د ۱۸٤۱ کال د دسمبر په یولسم تاریخ کله چی انګریزا نو په خپله لمر نی جګړه کښی ما تی خوړلی وه او په دي ورځ یی د افغا نستان د ملت د نما ینده ګا نو سره د افغا نستان شخـه د وتلو تعهد امضا کولو افغا نی نما ینده ګا نو ورته لاند یني شرا یط ور اندي کړل :

۱ـ د بنا غلو (انګریزا نـو)

د هیلی سره سم چی با ید د جلال اباد په لور د تللو په وخت کښی په تګ لاره کښی د مزا-حمت څخه د خوندي سا تلو څخا طر ورته افغا نی مشران مقرر شی نو محمد عثمان خا ن او شاه دوله خان د دي طرفه مقرر دي •

۲ـ د انګریزا نو لښکر په جلال اباد کښی

د کابل څخه د انگریزي فوځ د رسید لــــو
ړومبی پشا ور لوري‌ته حرکت‌وکړي څنـــــــه
جا ئیز ندي •

۳ــ پــه غزنی‌کښی د انگریزا نو فـــوځ
با ید پــه تلوار اوچټکی سره د خپل تګ تیاري و
نیسی اود کا بل د لاري (نه د قند هارد لاري)
پشا ور ته لاړ شی او څنګه د نه کوي •

٤ــ انگر یزي فوځ په قند هار او نوروسیمـو
کښی با ید ژر تر ژره د هندو ستان پــه طــرف
رجعت وکړي •

٥ــ د امیرد وست محمد خان د عسکـــرو
د مال او اسباب (توپ خانی او نورو څخه) چـــی
د بنا غلو سره وي تول‌دی بیر ته مسترد کړي •

٦ــ بناغلی به د لاس‌د وسلی څخه علا وه
توپ خا نه ــ جبهه خانه ــ باروت او توپـــک
او نور هغه اسباب چی ور لی نشی نواب محمد زمان
خان ته تسلیم کــړي •

۷ــ هغه څوك چی د شا ه شجاع د کورنی

څخــه دلته پاتی کیږي دا بــه پــه بالا حصار کښی د حاجی خان پــه کورکښی وي ــ هروخت چی د امیر دوست محمدخان اونورو افغانانو کورونــه د خپل عیال سره پښا ور ته را ورسیدل دوي رخصت دي چه هندوستان ته ولاړ شی •

۸ــ د ښا غلو فوځ چی پښا ور ته ورسید • د امیر دوست محمدخان د کوزنی او نوروافغانی کورنیو د را تګ تدارك په ژر ونیسی اوپــه خیــر سره به یی را ولیږي •

۹ــ شپږ نفره با اعتباره او معتمده انګریزي ښاغلی به زمونږ سره یرغمل وي هرکله چــــــی امیر دوست محمد خان اونور افغانان دخپلــو کورنیو سره پښا ور ته را ورسیدل دوي رخصــت دي •

۱۰ــ په هیڅ صورت سره باید ددوهــم پلا د پاره انګریزي ښاغلی د افغانستان د ملك آرزو ونکړي اونسل په نسل دي د دوارو پـــه

منع کښی د دوستی او اتحاد رابطه مضبوطه اوسی ۰ او افغانی سرکار کله چی دخارجی دښمن په مقابل کښی مرسته غواړي انګریزي سرکار به پدي کښی دریغ نکوي ـ پدي صورت کښی افغانی سرکار به د انګریزي سرکار د صلاح پرته چا سره عهد نکوي ۰ کله که دهغی طرف نه مرسته کښی قصور راغی وروسته افغانان اختیار لري ۰

۱۱ ـ که د انګریزي ښا غلو څخه یو ښا غلی د څینی وا قعا تو په علت نشی کولاي بیرته لاړ شی اودلته پاتی شی د ښا غلود هیلی سره سم به د هغو سره ښه رویه او نیک سلوک کیږي ۰

۱۲ ـ د ټولی توپ خانی او بم اچونکو څخه چی لري یې شپږ اسی اودري کچري توپونه چی ټول ۹ کیږي د څانه سره یو سی او باقی به په پریږدي ـ او نوابطلی ته به یې تسلیم کړي ـ او په آینده کښی به د دواړو دولتینو سره خیر او شر په ګډه فکر کوي ۰ که چیرته جماعه

د مسلمینو اویا طائفه د بنا غلو انګریزا نو ترړ ي
شرطونو څخـــه غاړه وغړوي د اسلام اهل به
پخپل دین اوآئین کښـــی او بناغلی انګریـــــزان
به پخپله طریقـــه کښی عهد ما تونکی او دروغجن
وي او په عا لم کښی به ملا مته وي ٠

پدي تر تیب سره هغو زیړو او شړ لـــــــو
خلکو د خپل ملی نا موس د پاره د د نیا د وخت
د لوي امپرا طوري د فوځ نظا می منظم طا قت
مات او د سیا سی لحا ظـــه یی هغه تـــــــه
وښوده چی د دي ملت" نیمه وحشی "خلك پـــه
څو مره ساده الفا ظو او بریښید لو تورو ســـــره
د خپلو ملی ګټو سا تندوي دي ٠

اوس بیا همدا پـــه پښو ابل ـ په تنـــــن
لوځ او پـــه ګیډه وزي ولی د ایمان او غیـــــرت
څخـــه ډ ك ملت د یوتاریخی امتحان لانـــــدي
را غلی دي که چیر ته پام ونکړي او پـــه خپلـــه
... را ونه نغا ړي اود خپل لوي ملی وحد...

په وسیله د سوی خوا د روس په مقابل جنس
جهیږه ونکړي اود بلی خوا هم د خپل صف څخه
نفاق اچوونکی - شخص گتی پالونکی - مقام
او وزارت غوښتونکی - د پاد شاهی د اوطلبا
ظالمان اوتیري کونکی او د دا سی نورو ساري
امراضو خاوندان د علاج د توري لاندي ونه
نیسی - اونه جوړید ونکی د خپل غیږي څخه
ونه شړي نو دا ملت به د خپل محکومیت ورځی
را لنډ وي ۰ دوي باید ثابته کړي چی د کوم
هیواد خلك خپلوا کی غواړي هغه د آزادي په
مفهوم هم پوهیږي ۰ څوك چی شهادت قبلوي
او تویك را اخلی هغه د چا ظلم نشی قبلولی.
مونږ باید د دي جگړي په دوران کښی دا سی
ملا وتړو چی د روسی یرغلگرو اود هغه د لاس پوڅو
د حکومت سره د جگړي په دوران کښی په
هیواد کښی د ظلم د له مینځه وړلو د پاره بنیاد
کیښود شی ترڅو د شهیدانو د یتیمانو
او ز ندو په حقوقو لوبی ونشی - ترڅو هغه

مجاهدین چی په میړانه سره یی د دي هیو-
اد پالنه کړي اوسریی ورته پلاس کښی نیولی
دي خپل انسانی حق ته ورسیږي او د دي وسیله
د ملت وحدت لاپسی پیاوړي شی ۰

که مونږ په جګړي تینګار کوو د دي د پاره نه
دي چی زمونږ جګړه خوښیږي ۰ مونږ ډیره
آرزو لرو چی همدا اوس جګړه بس او افغانستان
خپلواك شی ولی د اعملاً امکان نلري د اهدف
فقط د جګړي پرمخ وړلو سره لاس ته راځی ۰

د جګړي اوږ دوالی زمونږ د واك څخه بهر دي-
خو هغه څوك چی د جګړي د اوږ دوالی څخه
مخ نیوي کوي د دوه حالاتو خالی ندي :

۱- یا غواړي افغانستان روسانو
ته تسلیم کړي ۰

۲- یا غواړي په لنډه جګړه کښی
په دښمن کامیاب شی ۰

د تسلیمی د افکارو لرونکی ملت ته خائینې

دي دوي په هر لباس کښی چی وي روسا نــو ته
خدمت کوي خوکلــه د مجا هدینود ویري خوله
پتهــه ساتی اوخپنی وخت یوځاي او بل ځاي د
اظهار نظر د پاره موقع پیدا کوي اوخپـــل د
زهرو ډ ک فکرونــه تبلیغوي ټولو مجا هدوتنظیمو
ته پکار دي چی داسی خا ئینونو ته د عمــل
جزا ورکـــــړي ·

د لنډ ي جگړ ي پلویان دلته اوهلته پـــه
خپل ذهن کښی خیا لی لښکري جوړ وي اوغوا-
ړي چی توپ - ټا نګ او طیاره ولري اوپـــه
یوه نا ځا پی حملــه د روسا نو مرکزونه د مینځــه
یوسی خوکلــه چی گوري دا سی وسائل امکا ن
نلري چی موجود شی نو د غلیم د طا قت څخــه
یی پــه زړه سا ړه ننوځی اونا امیده شی · په
مجا هدینوکښی د لنډ ي جگړ ي فکر هغه وخت
قوي کیږ ي چی یو روسی طا قت ته ما تی ورکړ ي ·
دوي پــه یوه جگړ ه کښی خپل نسبی طا قت تــه
نه متوجه کیږ ي او فکر کوي چی دوي کولاي شـــی

په همد غې ړ ول د ښمن ته پــه تړ لو ځا يونو
کښې ماتې ورکړي ــحال داچې په جګړه کښې
د رو سا نوکمزوري فکر کول مجا هد ينوته سخــت
تلفات رسوي • خو د جګړي پــه لحظــه يې ماتې
خوړ لو سره همغه ځوك چې د لنډ ي کا ميا بې
پــه فکرکښې وي نا اميده کيږ ي • ددا ســــې
نظرخاوندان د يوارخ ځخه بل ارخ تــــــه
لو يږ ي اوپــه اوږ ده منډه کښې ستړ ي کيــــږ ي •
د لنډ ي جګړ ي پلويان صادق او وطن پال خلك
دي خو ددوي درك د اوسنې جګړ ي ځخــــه
با يد اصلاح شي ترڅوما تې يې ما يوســــه
نکړ ي • دوي با يد پوه شي چې دد ښمــــــن
امتياز د هغه پــه قدرت کښې دي خو زمونــــږ
امتياز په دي کښې دي چې مونږ د يوعاد لانــــه
امر دپاره جنګيږ و ـــ اوهم با يد پوه شـــــــې
چې زمونږ کمزور تيا پــه نظا مي طا قت کښې ده
اود ښمن د دي کبله کمزوري دي چې د يوارتجاعي

اونا حق امر دپاره جنگیزي • که مونږ خپل امتیاز اود ښمن کمزوري اوهم د دښمن امتیاز اوخپله کمزوري ونه پیژنو د د ښمن سره د مقابلې په دوران کښې ماتې موږ • د دي کبله ویلاي شو هغه څوك چې د تسلیمي انکار په سرکښې لري هغه د دښمن طاقت گوري اود افغانستان د ملت طاقت چې ورځ په ورځ په زیاتیدو دي نه گوري ـ اوهغه څوك چې د لندي جگړي فکرونه په سرکښې لري دوي د د ښمن طاقت ته پام نه کوي • خو مونږ وایو افغانستان به روسانو ته تسلیم نشي او جگړه به د بري پوري پرمخ بیایي که څه هم تر لا ر په وینو سره شي •

زمونږ خپلواکي نه یوازې په افغانستان کښې د سولې سره بلکه د نړي والې سولې سره پیوند لري نو د دي دپاره چې په افغانستان کښې سوله مینځ ته را شي او نړي واله سوله

تینگه شي او د روس فاشیزم توپك پرخمكه
پریوځي باید توپك را واخلو – د دغې دپاره
چي نوره جگړه نه اوسي باید جگړه وكړو
دا زمونږ د خلكو عادلانه جگړه ده چي د روس
فاشیستانو غیرعادلانه جگړه ما توي ۰ درست
د همدي دپاره د سولې د بيځایه گونگسې او
د تسلیمدونكو افكارو په مقابل كښې باید ودریږو
اوبري نږدو چي زمونږ د ملت پاكه لمن
د دښمن د سولې د كرغیړن تبلیغ میدان وگرزي ۰
زمونږ ملت په خپلې عادلانه اوبرحق جگړي
سره د نړي د ارتجاع لوي مركز ته گذار وركوي
او په افغانستان كښې د دې طاقت
په كمزوري سره به د شرقي اروپا او
شوروي كښې د محكومو ملتونو د آزادي غږ پورته
كیږي ۰ د روسیه دا خلي تضادونه به
په قوت سره سر را اوچت كړي او د سوسیال –
امپریالیزم خیالي ما نۍ به د ړیوړي كړي ۰

په دي ترتيب سره وبلاي شو چــــــــــــــې افغانستان د روس د سلطې لانـــــــدي محکومو ملتونو د پاره د اميد ځاي اودنړي والې سولې سنګردي نوځکـــــه ددهٔ ځخـــــه ملاتړ د ټولو نړيوالو انسانې وظيفه ده ٠

زمونږ لاره اوږده اوهدف مو سپيڅلې دي — زمونږ ملت پـــــه تاريخ کښې ترټولو سختـــــه جګړه پرمخ بيايي اودهمدي کبله به يې نوم دآزادي غوښتونکو ملتونو پـــــه سرکښې ځليږي ٠ دلتـــــه اوهلته ځاي ځاي کـــــه ناوړه افکار څرګنديږي دا افکار بايد پـــــه بې پروايې رحمې وټکـــــول شـــــي اوريښې يې را وويستلې شي ٠ ددښمن افکاروته ميدان مهخالي کوي دد ښمـــــــــن سره پدي ميدان کښې هم مقابله وکـــــــــړي اوځانونه د اوږدي جګړي د پاره چمتـــــــــو وساتـــــــــــي ٠

والله مع الصبرين

ARIC
B
4.36
AMC
747

مونږ باید دخپل انقلاب په مسیر کښې د کوږ اګی دولت د ما تولو پخاطر د وطن ـ پلورونکو د تکیه اصلی مرکز د یرغلګرو لښکر د هیواد څخه وشړو او مزد ور ګوند او نیم ـ بنده اردو یی مات کړو ترڅو د ا د شیطان خاله د همیش لپاره ورا نه شی ...

د ۱۳٦۵ کال د دلوي میاشت